# خپل صفونه برابر کړئ، ځکه د صف برابرول د لمانځه له بشپړتیا څخه دي

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: "خپل صفونه برابر کړئ، ځکه د صف برابرول د لمانځه له بشپړتيا څخه دي".
[صحيح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم لمونځ کوونکو ته امر کوي چې خپل صفونه سم کړي او تېر او بېر سره ونه درېږي او دا چې د صفونو سموالی د لمانځه له بشپړتيا او کمال څخه دي، او د صف په ګوړوالي کې ګډوډي او نېمګړتيا ده.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3031